بسم الله الرحمن الرحيم

## روژه؛ د فتحو او برياوو مياشت

شپږمه برخه

## د عين جالوت جګړه

**الحمد لله الذي فتح أبواب الجنان لعباده الصائمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين، المبعوث رحمة للعالمين وآله وصحبه الطيبين الطاهرين، ومن تبعه وسار على دربه، واهتدى بهديه واستن بسنته، ودعا بدعوته إلى يوم الدين، أما بعد:**

د هغه الله سبحانه وتعالی ثنا او ستاينه چې د روژتيانو لپاره يې د جنتونو دروازې پرانيستې دي؛ پر هغه غوره نبي او رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه پر کورنۍ او اصحابو رضوان الله عليهم اجمعين دې سلام او درود وي چې د ټولې نړۍ لپاره رحمت رالېږل شوی؛ پر هغو کسانو دې سلام او درود وي، چې د هغه صلى الله عليه وسلم پيروي يې کړې او پر لاره يې روان شوي، د هغه په هدايت يې سمه لار موندلې او د قيامت تر ورځې يې د هغه په بلنه دعوت کړی وي. اما بعد:

**د ايمان ورونړو!**

د عين جالوت جګړه د ٦٥٨ هـ.ق کال د رمضان په ١٥مه د جمعې په ورځ وشوه. الله سبحانه و تعالی وغوښتل چې د دغې جګړې په واسطه فلسطينيان د تاتاريانو له خطر څخه وژغوري، ځکه هغوی دغه اسلامي خاوره لاندې کړې وه. له دې وړاندې صلاح الدين ايوبي د صليبيانو پر وړاندې هم دا ډول ډېر برياليتوبونه تر لاسه کړي وو، چې د مسلمانانو د خاورو د ازادۍ لامل وګرځېدل. هغه داسې چې د مصر سلطان، (قطز) پر تاتاريانو د بريد پلان ته دوام ورکړ، ځکه تاتاريانو د شام په ځمکه کې ډېرې ناخوالې رامنځته کړې وې. قطز خپل پوځي مشر الباسل يا رکن الدين بيبرس ته يې امر وکړ، چې د تاتاريانو پر ځواکونو، چې هرې خواته تيت وو، بريدونه وکړي او د هغوی د هغو ګنګوسو مخه ونيسي، چې د خلکو په زړونو کې يې ويره اچولې. بيبرس په دغه کار کې خپل مهارت ثابت کړ، تر دې چې خپل ځواک يې هم وازمويه او د هغوی د راټولېدو پر ځايونو او ټولو خوځښتونو خبر او پوه شو.

بيبرس، قطز ته راپور واستاوه او د عين جالوت په سيمه کې ورسره يو ځای شو. دغه ځای په فلسطين کې د بيسان او جنين ترمنځ واقع دی. قطز په دغه ځای کې شامي او مصري ځواکونه سره منظم کړل او له تاتاريانو سره د جګړې لپاره يې په هر څه سنبال کړل؛ بيا يې د جنګ مجلس راوغوښت. د جنګي ډلګيو مشران راټول

شول چې د جنګ پلان جوړ کړي. یو بل ته یې د تاتاریانو پر وړاندې جګړې لپاره روحیه ورکړه؛ د مسلمانانو پر وړاندې یې د هغوی ظلمونه، لکه وژنې، د ښځو تښتول، سوځول، ویره اچول او داسې نور، یاد کړل. هغوی یې وهڅول چې تاتاریان له شام څخه وباسي، د مسلمانانو او اسلام مرسته وکړي او د الله سبحانه وتعالی له سخت عذاب څخه یې وویرول. د قطز خبرې ډېرې اغېزناکې وې؛ تر دې چې امیرانو او قومندانانو وژړل او کلک قسمونه یې وخوړل چې قرباني به ورکوي او جهاد به کوي.

**د ایمان وروڼو!**

د هلاکو مرستیال، «کتبغا» چې په شام کې د شامي او مصري پوځونو له تیاري خبر شو؛ جګړې ته یې ځان تیار کړ. هغه د تاتاریانو پوځیانو ته د راټولېدو امر وکړ او خپل صفونه یې د عین جالوت په سیمه کې سره یو ځای کړل.

**د ایمان وروڼو!**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: امام هغه ډال دی، چې تر شا یې جګړه کیږي او ځان ورباندې ساتل کېږي. نو کله چې د دواړو لوریو پوځیان سره مخ شول، سلطان قطز په جګړه کې خپل مهارت او زړورتیا وښودله او د خپل پوځ روحیه یې نوره هم لوړه کړه. د جګړې پر مهال یې اس زخمي شو، نو قطز له خپل اس څخه راکوز شو او جنګېدو ته یې دوام ورکړ. د پوځ یوه امیر چې ولید، خپل اس یې ورته راوست، خو قطز یې له سپرېدو ډډه وکړه. سلطان قطز تر هغې پلی وجنګېد، چې پوځیانو یې بل اس ورته راوست.

کله چې جنګ نور هم سخت شو، قطز هر څه پرېښودل او په لوړ آواز یې وویل: یا اسلام! او خپله په تاتاریانو پسې ورغئ، له دې سره د مسلمانو پوځیانو روحیه نوره هم پورته شوه او پر تاتاریانو یې سخت برید وکړ؛ تر دې چې د هغوی مشر، کتبغا یې وواژه. له دې سره د تاتاریانو روحیه له منځه لاړه او صفونه یې ګډوډ شول؛ ځکه چې کتبغا د هغوی له غوره جنګیالیو څخه و او ټولو پوځیانو د هغه په نظر، زړورتیا او تدبیر تکیه کوله. هغه له دې وړاندې د فارس او عراق سیمې هم نیولې وې او د تاتاریانو پاچا، هلاکو ډېر باور پرې درلود او مشورې یې تل منلې.

**د ایمان وروڼو!**

د تاتاریانو حالت یې د مشر په وژل کېدو سخت خراب شو؛ هڅه یې وکړه چې بیا خپل صفونه منظم کړي. پر مسلمانانو یې بیا برید وکړ، جګړه دومره سخته شوه چې د تورو او جنګي الاتو شور زلزلې ته ورته و. د جګړې د بیا پیل لپاره قطز ناره وکړه: اسلام وژغورئ! درې ځلې یې د پوځ د زړورتیا لپاره ناره تکرار کړه. دعا یې وکړه: اې

الله! خپل بنده قطز ته دې په تاتاريانو برى ورپه برخه کړه. په پايله کې تاتاريانو سخته ماتې وخوړه او ډېر اتلان يې ووژل شول. په دغه وخت کې قطز له خپل آس څخه راکوز شو او مخ يې د سجدې په حالت کې په خاورو ککړ کړ، خاوره يې ښکل کړه او د شکرانې دوه رکعته لمونځ يې ادا کړ.

**د ايمان ورڼو:**

له جګړې دوې ورځې وروسته د بري خبر شام ته ورسېد؛ د شام خلکو د خوشحالۍ نارې وهلې او شعرونه يې ويل. تاتاريان وروسته له هغې چې شام يې اوه مياشتې او لس ورځې په خپله ولکه کې ساتلی و، وتښتېدل. له دې وروسته د شام د خلکو زړورتيا او حماسه نوره هم زياته شوه او د تاتاريانو پر ودانيو او شتمنيو يې بريد وکړ او پر دغو خاينانو يې سخت عذاب نازل کړ. له دې وروسته سلطان قطز دمشق ته روان شو، کله چې طبريه ته ورسيد، نو د شام والي ته يې د خپل بري خبر ورکړ او ځايي خلکو ته يې د نظام په لاس کې نيولو او له ګډوډۍ څخه د ځان ساتلو امر وکړ. په رمضان مياشت کې دمشق ته ننووت، ځايي خلکو يې تود هرکلی وکړ او له دغې سترې بريا سره د مسلمانانو شکر دوه برابره شو. قطز چې په دمشق کې و، رکن الدين (بيبرس) يې له يوه ستر پوځ سره د شام شمالي خواته واستاوه چې پاتې تاتاريان وشړي.

دغې سترې فتحې د مسلمانانو روحيه ډېره لوړ او تاتاريان سخت وويرول. تاتاريانو له وړاندې ځان ناکام ګڼلی و. کله چې پوه شول چې د اسلامي لښکر مشري د رکن الدين (بيبرس) پر غاړه ده او حمص ته نږدې شوی دی، ټول مالونه او لوټ کړي سامانونه يې بېرته پرېښودل، بنديان يې خوشې کړل او د ځان ژغورنې غوښتنه يې وکړه. مسلمانانو وکولی شوی چې د تاتاريانو پوځونو ته سخته ماتې ورکړي. هلاکو چې د شام د جنګ پلان يې درلود، هر څه يې له لاسه ورکړل؛ په ځانګړې توګه يې د مرستيال، کتبغا وژل کېدو ټولې هيلې او هڅې له خاورو سره يو کړې.

د عين جالوت جګړه مادياتو ونه ګټله، بلکې د بريا سبب د مسلمانانو لوړه روحيه وه چې غوښتل يې د الله سبحانه و تعالی په مرسته ځان د تاتاريانو له ظلم څخه خلاص کړي.هېڅا د دغې بريا تمه نه لرله. مسلمانانو له ظلم څخه د ځان خلاصون لپاره جهاد وکړ، له تاتاريانو څخه يې خپلې سيمې آزادې کړې او په نړۍ کې يې بېرته خپله دبدبه راژوندۍ کړه. الله سبحانه وتعالی خو دې په مسلمانانو کې بيا هغه روحيه راژوندۍ کړي چې د له ظلم څخه د خلاصون او خپل عزت بيا ترلاسه کولو لپاره کفر بېرته خوار او ذليل کړي.

**او په پای کې، اې د ايمان ورونو!**

الله سبحانه وتعالی خو دې وکړي چې د روژې میاشتې په دغو غوره ورځو کې زموږ سترګې د خلافت دولت په لیدو سره خوږې کړي، موږ خپل وفاداره او اخلاصمن سرتېري وګرځوي؛ د اسلامي امت لپاره د عزت، لویۍ او مجد ورځې بیرته راوګرځوي او په ځمکه کې هر څه ورته چمتو کړي. الله سبحانه وتعالی خو دې زموږ دغه هیلې ژر زموږ پر لاسونو د روژې مبارکه میاشت کې پوره کړي او الله سبحانه وتعالی پر دغو ټولو چارو واکمن، ځواکمن او ولي ذات دی.

**اې الله سبحانه وتعالی!** زموږ سترګې د خلافت دولت په تاسیس سره خوږې کړه او خپل اخلاصمن او وفادار سرتېري مو وګرځوه!

آمین

* * *

**استاد محمد أحمد النادي**